# په پښتو ادب کښې د ماهیې ابتداء و ارتقاء

## An Analysis of the Origin & Evolution of 'Mahiya' in Pashto Literature

منصور مفتون*

**Abstract:**

The dynamic interplay of cultures in close geographical and social contact often leads to the emergence of shared poetics, symbols, and aesthetic values. "Mahia," a popular Punjabi folkloric genre, gradually permeated through sustained interaction with Saraiki and Hindko-speaking communities. Over time, it was embraced and practiced by Urdu poets, eventually migrating into Pashto literary tradition. This paper explores the origin, evolution, and thematic-technical transformation of the Mahia genre as it shifted from Punjabi to Pashto poetry. While retaining its distinctive folk character, the genre in Pashto has been adapted by a limited number of poets who have successfully integrated it with the collective meters, rhythms, and poetic conventions of Pashto literary tradition, resulting in the creation of "Pashto Mahias."

**Key words**: Mahia, Folklore, Pashto Poetry, Cultural Assimilation, Creative Expression.

**پېژندګلو**:

د نړۍ د ذیاترو علمي او ادبي اصنافو پېل د فوکلور څخه شوی دی، ځکه ډېر لیکوالان وائي "فوکلور د علم مور"- که چیري مورې د پښتو شعري او قیصه ایزو اصنافو ته ځیر شو نو هم دغه بیانیه به سوچه ثابته شي- فوکلور د کلتور د تاجتماعي تخلیقي نظام څخه رنا اخلي ، ځکه نو د تخلیقي ضرورت له مخې د نورو ژبو او کلتورونو څخه هم ګټه تر لاسه کوي-

"ماهیا" چي د پنجابي او هیندکو ژبو اولسي صنف دی، او پښتو ته یې هم لاره موندلې ده، د ژبو او کلتورونو تر منځ د میل جول او تخلیقي ربط یو ښه مثال دی- په دې تحقیقي هڅه کي ما په پښتو ادب کې د ماهیې ابتدا او ارتقا" بحث کړی دی.

"ماهیا" یو شعري صنف دی چې خپله ابتدا یې د پنجابۍ ادب څخه کړې کوم چي پۀ هندکو اؤ سرائیکي کي هم اوږد تاریخ لري، له هغه ځایه اردو ادب ته راغلې او له اردو وروسته یې پښتو ادب ته لاره پیدا کړې ده. دا صنف نه یوازې په اُردو کي وده کړې، بلکې اوس مهال د پښتو ژبې ځوان شاعران هم پکې خپل جذبات او احساسات بیانوي، او خپلو شعري رنګونو ته نوی خوند او رنګ وربخښي.

که څۀ هم ډېر لوستونکي، لیکوالان د "ماهیې" له نوم سره نابلده دي، خو بېلابېلو موقعو کې به یې دا صنف اورېدلی وي، احساس کړی وي او خوند به یې ترې اخیستی وي. نو که یو ادبي صنف خلکو اورېدلی وي، خو علمي پېژندنه یې نه وي شوې، نو دا "نیم خوند ، نیم مجلس او نیمه مینه» ده.

---

* Bs Student, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta

زما د دې تحقيقي کار هدف دا دی چې دا نابلده خوږ صنف تاسو ته در وپېژنم. پهٔ دې تحقيق کې به د ماهيې ابتدا، د پنجابۍ ادب نه تر اردو ادب پورې ارتقايي مزل، او بيا د اردو نه پښتو ادب ته د دې صنف د تګ، خپرېدو او تحول تفصيلي مطالعه وړاندې شي. همدا راز به د پښتو ادب په ډګر کې د ماهيې د ظاهري او داخلي پرمختګ، کارونې، موضوعاتو، ساخت، شاعرانو او سبکونو ته هم يؤ نظر وشي-

ماهيا، لکه څنګه چې مخکې مو يادونه وکړه، يو فولکلوري (Folkloric) شعري صنف دی، چې د انسان د احساساتو، جذباتو او خيالاتو د اظهار لپاره کارول کېږي. دا صنف د خلکو له منځه راټوکېدلی، له ژوند سره نښتی او د هغوی د ورځني ژوند عکس العمل دی-
کله چې انسان د ساعت تېرۍ، تفريح يا د ذهني بوج کمولو لپاره کومه مشغولا غواړي، نو هغه مشغولتياوې اکثره د هنر او ادب له لارې څرګندېږي، لکه موسيقي، سندرې، اتڼونه، لوبې يا نور تخليقي فعاليتونه. خو د دغو ضرورتونو او جذباتو يوه بله مهمه هنري حل لاره "فولکلور" يا اولسي ادب دی. همدلته "ماهيه" د يو اولسي صنف پهٔ توګه راڅرګندېږي، چې نه يوازې د خلکو د داخلي احساساتو انعکاس دی، بلکې د هغوی د ټولنيز ژوند، کلتور او رواني کيفيتونو ژور استازيتوب هم کوي.

**فولکلور يا اولسي ادب**:

زما پهٔ نظر انسان چې د خپل اسانه ژوند د تېرېدو لپاره د خپل عقل لهٔ لارې يوه لاړ تخليقوي اؤ بيا يې اختياروي هم و دې ته فولکلور / اولسي پوهه وېلی سو.

> "فولکلور د انګرېزۍ ژبې يوه مرکبه کلمه ده چې د دوو کلمو فولک (FOLK) اؤ لور (LORE) نه جوړه ده . د فوک (FOLK) لغوي مانا ده اولس يا خلګ ، اؤ د لور (LORE) مانا ده پوهه يا زدکړه . دا شان د فولکور (FOLKLORE) مرکبې کلمې مانا شوه ، د خلګو (اولس) زدکړه يا پوهه. " (داؤد، ۲۰۰۶، مخ ۱۱)
>
> "پهٔ نړۍ کي هر قوم خپله ځانګړې ژبه، کلتور، لباس، د ژوند طرز او جغرافيه لري، چې د خپل تاريخ، تجربو او چاپېريال له مخې يې رامنځته کړي دي. هر اولس د ژوند د بېلابېلو اړخونو تجربه لري، اؤ هم دغو تجربو ته پهٔ کتو يې خپل دودونه، رواجونه، ژبې او فرهنګي ارزښتونه جوړ کړي دي. فوکلور د يوه اجتماعي کلتوري عمل په نتيجه کښې تخليق شي او اولسونه پکښي د فاعل په توګه ګډون کوي". (کاکړ، ۲۰۲۲،مخ ۳۲)

فولکلور، يا اولسي ادب، د دې ارزښتونو يوه مهمه هنداره ده، چې دوه لويې برخې لري: مادي فولکلور او غېر مادي فولکلور- مادي فولکلور کي د خلکو د ژوند مادي او څرګنده اړخونه شامل دي، لکه خوراک، څښاک، لباس، کرنه، وسايل، ودانۍ، اؤزار او نور .

غېر مادي فولکلور کې بيا د اولس د فکري، روحاني او هنري ارزښتونو انعکاس کېږي، چې پکې رسم ؤ رواجونه، سندرې، شاعري، نکلونه، متلونه، اتڼونه او نور شامل دي.
زما د تحقيق تمرکز د غېر مادي فولکلور پۀ هغه برخو دی چې د اولسي ادب پۀ نوم پېژندل کېږي. پۀ ځانګړي ډول، زۀ د پښتو منظوم فولکلوري اصنافو مطالعه کوم، چې د خلکو د احساساتو، جذباتو او افکارو اظهار پکې کېږي. دا منظوم صنفونونه، لکه ټپې، کاکړۍ، سندرې او نور، د اولس له ژبې، فکر او احساس سره نږدې تړلي دي. خو دلته بيا زما کار پۀ اولسي صنفونو کې پر ټپه ، کاکړۍ غاړه ، نيمکۍ اؤ نورو باندي نۀ دی زما تحقيق پر ماهيا باندي دی کوم چې به مخ ته درپېژنم-
ماهيا د يو اولسي صنف په توګه:
ماهيا بېلابېلې بڼې لري، خو تر ټولو زيات شهرت يې درې مصرعيزه بڼې ته ورکړل شوی دی، کوم چې وروسته اردو ژبې ته راغلی، هلته يې پرمختګ کړی اؤ ډېر مقبول شوی دی. د ماهيې پۀ اړه مختلف نظريات وړاندې شوي، که هغه د پنجابي لخوا وي اؤ که د اردو د ليکوالانو لخوا دي.
د پنجابي ادب ګڼ شمېر محققين ماهيا د خپل اولس يوه فطري ادبي اړخ بولي، چې د دوی د احساساتو، جذباتو او ژوند د مختلفو اړخونو آئينه ده. اردو ادب کې بيا ماهيه د روماني، فکري او مزاحي موضوعاتو تر ټولو خوښ او موثره صنف ګڼل کېږي. د دې صنف ځانګړتيا دا ده چې درې مصرې لري — لومړۍ او دوهمه مصرعه لنډي او هم قافيه وي، خو درېمه مصرعه نسبتاً اوږده او د تاثير رسولو لپاره کارول کېږي.

*" ماہیا پنجابی زبان کی ایک مقبول صنف ہے جو تین مصرعوں پر مشتمل ہوتی ہے۔ماہیا لفظ ماہی کے ساتھ الف ندائیہ ملا کر بنایا گیاہے جس کی مرادی معنی ہیں اے ماہی، اے ساجن، اے ساتھی، اے محبوب اور اے میرے معشوق۔پنجابی ماہی چرواۓ کو کہتے ہیں، بالخصوص بھینس چرانے والے کو۔ "* (https://urdunotes.com)

**ژباړه** : ماهيا د پنجابۍ ژبې يؤ مقبوله صنف دی کوم چې درې مصرعيزه شکل لري . ماهيه/ ماهيا توری پۀ پنجابي يا اردو کښې الف ندائيه سره ګډ لۀ ماهي څخه ماهيا شوی دی چې مانا يې ده ، اې ماهي ، اې جانانه ، اې ملګريه ، اې محبوبه اؤ اې زما معشوقه . پنجابيان ماهي و شپانۀ ته وائي خاص بيا د ګامېښو غړولو يا پېولو والاته :
دا صنف پۀ درې ډوله پۀ پنجابۍ کښې ليکل کېږي چې لومړی پۀ يوه مصرعه ، دويم ډول پۀ دوو مصرعو خاص لکه ټپه چې يوه نيمه مصرعه هم ورته وېل کېږي اؤ درېيم ډول يې درې مصرعې لري چې لومړۍ اؤ اخري يا درېيمه مصرعه يې هم قافيه اؤ هم رديف وي .اؤ درې واړه مصرعې د وزن پۀ حساب برابري وي . اؤ پۀ دې کښې محبوب يا محبوبه و يؤ بل ته د مينې ، محبت اظهار ، ګيلې ، غم ، خوشحالۍ اؤ د داسې نور ډېرو احساساتو ، جذباتو اظهار پکښې کوي . اؤ د ماهيې دا درېيم ډول چې درې مصرعې لري پۀ اردو کښې هم دا ډول رواج لري .

کله چي دا صنف له پنجابۍ څخه اردو ادب ته راغی، نو په اردو ژبه کي هم په دې باندې زيات شعرونه او تحقيقي کارونه وشول. دا مرحله د ماهيې په پرمختګ کي مهم پړاو ګڼل کېږي- د همدې پراختيا په اړه دا هم ويل کېږي چې

" ماہیا دل میں اگنے والا سدا بہار پودہ ہے" (نجمی ، ۸)

**ژباړه** : ماهيه په زړونو کښې شين سدا بهار بوټی دی .

**وجه تسميه**:د ماهيې د نوم په هکله پوهان تر اوسه لا اختلاف لري د پنجابي که د اردو ليکوالان دي که د نورو ژبو چي د ماهيې اصل رښته څه ده او له کومه راغلې ده او دا نامه چا کله څنګه ، له کومه او ولي ورباندې کښېښوله؟ يو اند البته دا هم دی چي ماهيا د ماه يعني سپوږمۍ څخه مشتق دی، په اصطلاح کي د پيې مخو يا ښائستو مخونود ستايئني صنف دی-
دغه رنګه دې صنف ته د شپنو چي په پنجابي کي "ماهي" ورته وئيل کيږي ، نو هم دغه يې وجه تسميه ګڼل کيږي-

" ماہیا فارسی لفظ (ماہ) سے ماخوذ ہے جس کے معنی ہیں ایک مہینا، پورا مہینا، مکمل چاند۔ چاند کو چونکہ محبوب کے استعارے کے طور پر استعمال کیا جاتا ہے اسی نسبت سے عشق اور عشق کے درد، فراق، ہجر، وصل، ملاپ، دوری وغیرہ کا ذکر ماہیے کا بنیادی موضوع ہے۔ماہیے کے لغوی معنی سے متعلق یعقوب آسی صاحب کی رائے ملاحظہ ہو:
ماہیا، ماہی (یعنی مچھلی) سے ماخوذ ہے اور شاید اسی وجہ سے ایک زمانے میں یہ ماہی گیروں اور ملاحوں میں بہت مقبول رہا ہے ۔ آپ ماہیے سے تڑپ نکال دیں تو کچھ نہیں بچتا، یا یہ کہ مچھلی کی سی تڑپ کے بغیر ماہیا ہو ہی نہیں سکتا۔ آسی صاحب کے اس رائے کے مطابق درد اور تڑپ ماہیے کا خاصہ ہے"۔(https://www.punjnud.com)

**ژباړه**:" ماهيه / ماهيا د فارسي ژبي لفظ ماه څخه راوتلی دی چي مانا يې ده مياشت ، پوره مياشت يا پوره سپوږمۍ . دلته لکه څنګه چي تاسو ته ښکاري چي سپوږمۍ د جانان د استعارې په ځای کارول کېږي نو دغه رنګه د درد ، فراق ، وصال ، ديدن ، جدائي او داسي نورو ذکر د ماهيې بنيادي موضوع ګرځېدلې ده او د ماهيې په هکله يعقوب آسي خپل نظر داسي وړاندې کوي:
ماهيا ، ماهي (مطلب ماهی) څخه اخستل سوی دی ، کېدای شي چي دغه وجه وي چي په يوه زمانه کښې دا د ماهي ګيرو يو او په ملاهانو کښې ډېر مقبوله پاته سوی وي، تاسو له ماهيې څخه ساه تنګي وباسئ نو يو څه هم نه پاته کېږي ، مطلب د ماهي د ساه تنګۍ بغېر ماهيه کېدای هم نه سي ، د آسي صاب د دې رايې مطابق درد او ساه تنګۍ د ماهيې خصوصيتونه دي-
ځيني محققين دا صنف د پنجابۍ ولسونو سره تړلی ګڼي، ځيني يې د هندکو يا سرائيکي ژبو له دوديز ادب سره تړي، او ځيني بيا دا باور لري چي دا صنف د هند د لويې وچي له لرغوني کلتور څخه

سرچینه اخلي. همداراز، د ماهیې دنني جوړښت، قافیه بندی، وزن او موضوعاتي بڼې ته پاملرنه هم دا څرګندوي چي دا صنف د ولسونو د ژوري تجربې، جذباتو او فکري انداز انعکاس دی، نهٔ د کوم مشخص لیکوال تخلیق. نو ځکه ویلای شو چي د ماهیې د ریښې پهٔ اړه دا بېلابېل نظرونه د دې صنف اولسي ماهیت ثابتوي، او دا چي دا د یوې مشخصې خاورې نهٔ، بلکې د اولس د احساساتو له زړه راټوکېدلی دی.

د ماهیې پهٔ هکله لکه ماهیه چي دا د پنجابي ژبې ژانر دی نو د دې صنف د ریښې پهٔ هکله چي لهٔ پنجابي چاپېریال سره تړلې یوه رایه مونږ وړاندي کړو نو هغه به د نورو پهٔ مقابله کښې څهٔ کره اؤ پخه رایه وي ، ولې چي د پنجابۍ خاورې تخلیق دی نو د بنجابۍ لهٔ لارې یۇ داسي نظر مخ ته راوړل پکار دي چي:

"ماہیا سر زمین پنجاب کا عوامی گیت ہے۔ماہیا کا لفظ ماہی سے نکلا ہے لیکن یہ اردو والا ماہی نہیں ہے۔ویسے ماہیا میں محب اپنے محبوب کی جدائی میں ماہی بے آب کی طرح بھی تڑپتا دکھائی دیتا ہے۔پنجابی میں بھینس کو مہیں کہتے ہیں۔ بھینس چرانے والوں کو اسی نسبت سے ماہی کہا جاتا تھا۔ان چرواہوں کو بھینسوں پر نظر رکھنے کے سوا کوئی کام نہیں ہوتا تھا اس لئے دیہاتی ماحول کے مطابق انہوں نے کسی مشغلے کے ذریعے وقت گزاری کا رستہ نکالا۔بانسری بجانے اور گیت گانے کا مشغلہ ایسا تھا کہ بیک وقت چرواہے کا فرض بھی ادا کیا جاسکتا تھا اور اپنے دل کو بھی بھلایا جاسکتا تھا۔ بانسری اور اچھی آوازوں کے جادو نے بھی بعض چرواہوں کو اپنے اپنے دیہاتوں میں مقبولیت عطاء کی ہوگی لیکن جب محبت کے قصوں میں رانجھے اور مہینوال کو اپنے اپنے محبوب تک رسائی حاصل کرنے کے لئے چرواہا بننا پڑا تو پھر ان کرداروں کی رومانوی کشش نے لفظ ماہی کو چرواہے کی سطح سے اٹھا کر نہ صرف ہیر اور سوہنی کا محبوب بنادیا بلکہ ہر محبت کرنے والی مٹیار کا محبوب ماہی قرار پایا۔اسی ماہی کے ساتھ اپنے پیار کے اظہار کے لئے ماہیا عوامی گیت بن کر سامنے آیا۔" (قریشي، ۲۰۱۰،صفحه۲۸)

**ژباړه** :" ماهیه د پنجابۍ خاورې یۇ اولسي صنف دی . د ماهیې توری لهٔ ماهي څخه را اخستل سوی دی خو دا د اردو والاماهي نهٔ ده ، هسي خو پهٔ ماهیه کښې جانان د خپلې محبوبې پهٔ یاد کښې لکه بې اوبو ماهي چي د ساه تنګۍ لهٔ وجي یې ساه بندېږي ، خو پهٔ پنجابۍ ژبه کښې و ګامېښي / مېښي ته (م٥ىں) ویل کېږي ، اؤ لهٔ دې وجې د ګامېښي غړولو والاته ماهي ویل کېږي ، لهٔ دا شپنو سره به د ګامېښو علاوه بل یۇ کار هم نهٔ ؤ نو ځکه بیا دې د ګامېښي غړولو والا د خپل ساعت تېرولو لپاره یوه لار اختیار کړله ، د شپېلۍ اؤ د زمزمې وهلو دا ساعت تېری به داسي ؤ چي پهٔ یوهٔ وخت به شپانهٔ خپل فرض هم ادا کول اؤ د خپل زړهٔ خروش به یې هم ایستل. د شپېلۍ اؤ ښو ښو غږونو د نورو شپنو پهٔ زړونو باندې د خوند ورونه خلاص کړل اؤ چي د محبت پهٔ کیسې کښې چي د رانجها اؤ مهینوال ته چي د خپل محبوبه پوري د ځان رسولو لپاره یې ګامېښي غړولې نو بیا د دې کردارونو رومانوي کشش توری ماهي د شپانهٔ لهٔ ځایه پورته یواځې د هیر اؤ سوهني جانان نهٔ بلکه د هر مینه پال یا د

محبت کونکي لپاره د ماهي نوم اخستل پېل شول ، دغه رنګه لۀ جانان يا ماهي سره د محبت اظهار کولو لپاره ماهيه اولسي صنف منځ ته راغلی دی" -

د ماهيې پۀ اړه دا نظريه تر ټولو قانع کوونکې، پياوړې او د تحقيق لپاره مناسب بنسټ لري. ځکه چې موږ پۀ پښتو فولکلور کې ګڼ اولسي نکلونه اورېدلي دي لکه: آدم خان دُرخانۍ، موسي جان ګل مکۍ، مومن خان او شېرنو او دغه سي نور. دغه شان، د پنجابۍ ژبې پخواني رومانوي داستانونه لکه هير – رانجها، سوهني –ماهيوال، او نور هم د يادونې وړ دي. پۀ دغو داستانونو کې، رانجها شپيلۍ غږوي، هير ته سندرې وايي، او دا سندرې يا زمزمې، چې اکثر د زړۀ د حال، د فراق، د مينې، د درد ، د چاپېريال د ستونزو او ټولنيزو نابرابريو څرګندونه کوي ، ماهيې ګڼل کېدای شي.

دغه نظريه دا روښانه کوي چې ماهيه د همداسې يو حالت نه راوتلی فولکلوري صنف دی، چې: د محبوب ياد بيانوي، د ټولنيز ظلم، فقر يا بې‌عدالتيو غندنه کوي، اؤ يا هم د ژوند د ښکلو يا ترخو حقيقتونو اظهار کوي. هم دغسې اړخونه ماهيا له نورو منظومو اولسي صنفونو بېلوي، ځکه دا صنف د خپل جوړښت (درې مصرې، هم‌قافيه، هم وزنه، موزون طبيعت) سره سره، د اولس د احساساتو ژوره ترجماني کوي، اؤ ډېر لږ دا ځانګړتياوې نور اولسي صنفونونه لري.

نو له هم دې امله دا نظريه نۀ يوازې د ماهيې مبدأ ښه توضيح کوي، بلکې دا هم ښيي چې ماهيه يوه ژوره، فکري، جذباتي او ټولنيزه شاعري ده، چې د خلکو له خولې، زړۀ اؤ حال نه راوتلې ده. دا صنف لۀ يوې سينې تر بلې سينې پورې تللۀ اؤ تر دې حده دا صنف ژوندی پاته سوی اؤ رارسېدلی دی . پۀ ماهيه کښې د پنجابي اولس د مينې خوږ اظهار تر دې زايه را رسولی دی اؤ خپل پخواني ريواجونه يې غوره ساتلي دي اؤ د خپلې ټولنې ترجماني يې پۀ ډېره ښه طريقه کړې ده اؤ کوي يې.

د ماهيې د خوښېدو يوه بله لويه وجه دا هم ده چې دا يو خالص اولسي صنف دی. پۀ دې صنف کې د عام اولس د زړۀ سوي، دردونه، زخمونه او اهونه داسې پۀ خروارو پراته وي، لکه پۀ پښتو کې ټپه يا کاکړۍ غاړه چې د اولس جذباتو او احساساتو ته يې ژبه ورکړې ده. همدا وجه ده چې ماهيه د خلکو پۀ زړونو کې ځای لري. پۀ پنجابي ژبه کې ځينې قبيلې ماهيې ته ټپه هم وايي، چې ښايي دا د ټپې د مقبولېت اثر وي، يا دا چې دواړه صنفونه د اولس له ژور احساسه راټوکېدلي دي- اوس چې دا صنف پۀ اردو ادب کې هم پراخېږي او خپل پرمختګ ته دوام ورکوي، نو دا ثابته شوې ده چې ماهيه يو داسې ادبي شکل دی چې هر قام، هره ژبه يې د خپل احساس ترجمان ګڼي.

**د ماهيې ارتقائي سفر**:

لکه څنګه چې تر دې لۀ مخه مو پۀ دې باندې بحث وکړ چې دا د بنجابي ژبې تخليق دی اؤ د پنجاب فولکلوري صنف دی چې د پنجاب پۀ کليو کښې ډېر مقبوله اؤ عام دی اؤ د عامي لهجې پۀ وجه پۀ بنجابۍ کښې داسې لوړ مقام لري چې بل صنف يې نۀ لري. دا د ښځو لۀ اړخه تخليق شوی صنف دی

چي لېلا به د خپل محبوب په یاد ، غم ، دید ، خوشحالۍ او داسي نورو پېښو کښې وېلې او محبوب به یې شپېلۍ ورسره وهله چي په هغه وخت کښې د ګامېښو غړولو والا دا ښپېلۍ غږولې نو خپلې محبوبې به ماهي په ماهي یادول په زمزمه کښې چي اخر د ماهي په نامه دا زمزمه مشهوره شوه او تر دې دمه یې دا نامه برقراره ساتلې ده. او همېشه دا صنف د ودونو ، مېلو او داسي نورو موقو په ځای د وېلو خپل ځای پوخ لري .

د دې پس بیا دا صنف له مقبولېدو سره سره خپورېدل او تر اردو ژبې یې مزل را وکړل -

*"ماہیا پنجابی زبان کی ایک مقبول لوک دھن ہے اس کے بول عوامی فنکاروں کے ترتیب دیتے ہوئے ہوتے ہیں۔ جن سے قصداً کسی عروض وزن کی پابندی کا تقاضا، ظریر ہے بے سود ہے"(ریاض، ۱۹۹۴، صفحہ ۲۱)*

**ژباړه** : ماهیه د پنجابۍ ژبې یوه خوږه زمزمه ده او و دې زمزمې ته ترتیب ورکونکي هم اولسي فنکاران وي . له دې چا چي خامخا د عروضو د وزن پابندي غوښتل بې ګټې ده :

کله چي ماهیا اُردو ژبې ته راغله، نو په پېل کي ورته هغه مقبولیت تر لاسه نه شو کوم چي دې ته په پنجابۍ ژبه کي حاصل و. ځکه چي اردو شاعري تر ډېره د غزل او نظم له لارې پر مخ تللې وه، او ماهیه د اردو د لوستونکو لپاره یو نااشنا او نوی صنف ښکاره کېده- په لومړیو پنځو یا شپږو کلونو کي په اردو کي د ماهیې تر ټولو لویه ستونزه د وزن مسئله وه، ځکه چي د ماهیې د جوړښت طبعیت له اردو ژبې سره متفاوت یا مختلف و. د دې مزاجي توپیر له امله په اردو ادبي حلقو کي د دې صنف منل یو څه ستونزمن و. خو کله چي په ۱۹۹۰ مه لسیزه کي د دې صنف په اړه نقدونه، لیکنې او علمي بحثونه پېل شول، نو د وزن ستونزې ته ځانګړې پاملرنه وشوه. ورو ورو دا صنف په اردو ادب کي هم خپل ځای پېدا کړ، که څه هم تر ننه په دې اړه اختلافات شته. که څه هم په اردو کي ماهیه یو خالص اولسي صنف نشي ګڼل کېدای، خو ځکه چي د دې ریښې، طبعیت او تخلیق د فولکلوري ادب نه راوتلې دی، نو له همدې امله دا صنف په اردو کي هم د فولکلوري صنف په توګه پېژندل شوی دی.

د څېړنو، ثبوتونو او لاسوندونو په رڼا کي په اردو ادب کي د ماهیې باني همت رای شرما ګڼل کېږي، چا چي په ۱۹۳۶م کال کې د "خاموشي" فلم لپاره لومړی ځل اردو ماهیه ولیکه او دا صنف یې رسمي ډول معرفي کړ.

*"ماہیے کے حوالے سے اردو شعرا کا نام لیا جائے تو قمر جلال آبادی اور ساحر لدھیانوی سے پہلے ہمت رائے شرما اور قتیل شفائی کے ماہیے فلموں میں گائے گئے۔ اس حوالے اختر شیرانی، چراغ حسن حسرت جیسے مشہور شعرا کا نام بھی لیا جاتا ہے۔ماہیا پنجاب کی مقبول صنف سخن ہے اور ادبی محافل اور خاص تقاریب میں ضرور سنے جاتے ہیں اور سن ان سے لطف اندوز ہوتے ہیں۔ اس کی ایک وجہ یہ ہے کہ اس میں پنجاب کے دیہات کی خوبصورت زندگی اور دلربا داستانوں سے لازوال کرداروں کو سمیٹا گیا ہے۔*

ساون میں پڑے جھولے
تم بھول گئے ہم کو
ہم تم کو نہیں بھولے " (urdu.arynews.tv)

**ژباړه** :" د ماهيې پۀ هکله که د اردو شاعرانو نمونه واخلو نو پۀ دې کښې د جلال ابادي اؤ د ساحر لدهيانوي لۀ مخه د رائې شرما اؤ قتيل شفائي ماهيې پۀ پخوانيو فلمونو کښې زمزمه سوي دي، اؤ پۀ دې هکله د اختر شېراني ، چراغ حسن حسرت رنګه مشهوره نمونه هم مخ ته راځي.ماهيا د پنجاب يؤ مشهوره صنف دی اؤ پۀ ادبي غونډو ، خاص ځايونو کښې خامخا وېل کېږي اؤ د هر چا د خوښې وړ ګرځي ، د دې د خوښولو وجه هم دا ده چي پۀ دې کښې د پنجاب د کليو خوشحاله ژوند اؤ د زړۀ رانښکونکو داستانو کردارونو يوه تړل سوې غوټه ده ".

کله چي مونږ د ماهيې و دې خوند ته وګورو يا د پنجابی ماهيې پس د اردو پۀ ماهيه باندې لږ نظر وکړو نو پۀ اردو کښې هم ماهيې هغه د پنجابی روايت اردو ژبې برقراره ساتلی دی. مطلب پۀ اردو کښې که څۀ هم دلته دا صنف د يؤ فولکلوري يا اولسي صنف نۀ دی پاته سوی خوند اؤ مينه محبت اؤ کليوالي رنګ اوس هم هغه رنګه پکښې شته مطلب اولسي رنګ اوس هم لري مطلب مې دا دی چي وېلی سو چي دا اوس هم اولسي صنف دی ځکه چي د دې صنف اغاز خو کړی اولس دی که څۀ هم هرې خوا ته تګ وکړي اؤ پۀ نورو ژبو کښې يې لومړي ليکوالان معلوم وي خو بيا هم دا صنف اولسي صنف دی اؤ که پښتو ته هم لۀ دا خوا راغلی دی نو دا اولسي صنف دی.

دلته يوه بله مهمه پوښتنه هم را ولاړېږي: هغه دا چي دا صنف چي څنګه پۀ پنجابي اؤ اردو کې د "ماهيا" پۀ نوم يادېږي، نو بيا ولې پۀ پښتو کې "ماهيه" ليکل کېږي؟

که څۀ هم د دې پوښتنې مانا معلومول ډېره ګرانه خبره نۀ ده، خو غواړم چي يؤ څو اړوند معلومات چي زۀ يې لرم، له تاسو سره شريک کړم.

پۀ دې اړه موږ د ژبپوهنې له مخې ندائيه بولو، يعنې کله چي يؤ څوک يا نوم را وغوښتل شي. پۀ اردو يا پنجابي کې د ندائيې لپاره د نوم پۀ پای کې "الف" زياتېږي، خو پۀ پښتو کې بيا د همدغه مقصد لپاره "ه" کارول کېږي.

**د بېلګې پۀ توګه**: که زۀ پۀ پښتو کې يؤ څوک وغواړم، مثلاً جمال، نو ورته وايم: "اې جماله؟" دلته مو د "جمال" پۀ پای کې "ه" ورزياته کړه چي د ندائيتوب څرګندونه وکړي.

دغه راز، کله چي "ماهي" (د محبوب نوم يا دنداري کلمې پۀ توګه) پۀ پنجابي يا اردو که وغوښتل شي، نو دوی د ندائيې لپاره "الف" زياتوي او وايي: "ماهيا"! نو همدا وجه ده چې پۀ پښتو کې دا صنف "ماهيه" ليکل کېږي، ځکه چي زموږ د ژبې ندائيه قاعده د "ه" زياتونه ده، نه د "الف".

**د ماهيې فني جوړښت**: لکه څنګه چي په منظوم ادب کښې داسي ډېر صنفونه شته چي څۀ ازاد وي، څۀ بيا د قافيې ، وزن اؤ د سپلابونو په قېد کښې بند وي ، لکه ټپه ځان ته هيئت خپل لري- دوه مصريزه صنف دی چي لومړی مصرعه يې نهه اؤ دويمه ديارلس سپلابه وي ، اؤ ځيني صنفونه بيا لکه ازاد نظم يوه پابندي هم نۀ لري د هر څۀ لۀ قېده ازاد وي خو د وزن ،اهنګ خيال بياپکښې ساتل کېږي ، ماهيه هم لکه ټپه ، کاکړی ، غزل ، چاربېته / څلوريزې په شان ځان ته د وزن ، قافيه اؤ د سپلابونو قېد په دې کښې ډېر په غور و فکر پکښې نيول کېږي اؤ ورته کتل شوي دي .

" د ماهيې ليکلي بڼې په پنجابي کښې په درې ډوله دي :

۱ : لومړی قسم په دې کښې د هغو خلګو دی چي وائي ماهيه ټوله په يوه مصرعه يا ليکه کښې ليکل کېږي ،

تھالی وچ کھنڈ ماہیا کنڈ دے لنگھنا ایں تیری کنڈ دی وی ٹھنڈ ماہیا

۲ : دلته يې بيا ليکونکې يا ويونکې په دې شکل کښې مني چي ماهيه يوه نيمه مصرعه ايزه نظم يا صنف دی چي خلګ يې هم داسي خوښوي اؤ د دې جواز دا دی چي په دې هيئت ماهيه درې مصرعه ايزه اصنافو لکه هائيکو ، ثلاثي اؤ داسي نورو څخه ځان جلا کوي چي ښه خبره ده اؤ چي ځان ته و پېژندل شي لکه:

کوٹھے اتوں اڈ کاواں

سد پٹواری نوں، جند ماہیے دے ناں لاواں

۳ : دا درېيم ډول د هغو خلګو دی چي ماهيه په درې سطره کښې ليکي اؤ په دې مرام کښې يؤ څۀ تر ځايه هم رسېدلي دي ، د ماهيې دا درېيم ډول تر اؤل دوو ډولونو ډېر مقبوله اؤ زيات ليکل سوی ډول دی .

کوٹھے تے وان پیا

نکیاں نکیاں کنیاں

ڈھولا چادر تان پیا" (https://www.punjnud.com)

چي لږ ډېر غور فکر ورباندې وکړئ نو د ماهيې دويم شکل د پښتو لۀ ټپې سره ډېر زيات سمون خوري اؤ په سپلابونو کښې يې هم لږ فرق راځي چي هغه وجه د جلا ژبې د وزن ده ، د ماهيې هم دا دويم شکل هغه لۀ لومړئ ماهيې څخه که څۀ هم بدل دی خو ماهيه يوه ده و لومړی ماهيې ته چي لږ فکر وکړې هغه هم خپله لۀ اؤله دوه نيمي نۀ بلکې درې ټوټې ده خو په دويم شکل کښې لۀ درو بندونو څخه لومړی يؤ جلا کړی دی اؤ د بل جلا شکل ورکولو کوشش يې کړی دی .

"ماہیے کے لئے بگڑو اور ٹپا کے نام بھی استعمال ہوتے ہیں، لیکن ماہیا نام زیادہ مقبول ہوا۔" (قريشي، ۲۰۱۰، صفحه ۳۲)

ژباړه:د ماهيې لپاره د بګړو اؤ د ټپې نوم هم کارول سوي دي خو د ماهيه نوم زيات مشهوره دی .

اؤ اردو ته چي کوم ډول راغلی دی هغه هم پهٔ دې درې سطره ډول کښې راغلی دی لکه دا اخري ډول سي دی.
څنګه چي تر دې لهٔ مخه مونږ پهٔ دې هکله خبره وکړه چي ماهیه پهٔ اردو کښې د سېلابونو پهٔ هکله څهٔ اختلاف سره لري چي ځیني ۶ ، ۶ اؤ ۷ سېلابه دي لکه دا بالاماهیه ځیني بیا ۶ ، ۶ اؤ ۶ وي خو دا ټوله د وزن مسله ده چي پهٔ اردو کښې تر اوسه را روانه ده خو د سېلابونو شمېر ۷ ، ۶ ، ۷ اؤ ۶ ، ۶ ، ۶ تر دا نورو زیاتي لیکل سوي دي خو:

" ماہیے کے وزن کے سلسلے میں دو موقف سامنے آئے ہیں۔ پہلا موقف تنویر بخاری کا ہے۔ ان کے بقول ماہیے کا وزن یہ بنتا ہے:

مفعول مفاعیلن
مفعول مفاعیلن
مفعول مفاعیلن

دوسرا موقف ڈاکٹر جمال ہوشیار پوری کا ہے۔ ان کے بقول ماہیے کا وزن یوں ہے:

فعلن فعلن فعلن
فعلن فعلن فعلن
فعلن فعلن فعلن

وزن کے بحث دونوں پنجابی سکالر کا اختلاف واضح طور پر سامنے آیا تھا۔ جہاں تک ماہیے کے پہلے اور تیسرے مصرعوں کا تعلق ہے ان کا وزن مفعول مفاعیلن۔۔ بھی ہو سکتا ہے اور فعلن فعلن فعلن بھی۔ غور کیا جائے تو ڈاکٹر جمال ہوشیار پوری کا موقف زیادہ جاندار ہے کیونکہ مفعول مفاعیلن بھی عملی طور پر حقیقتاً فعلن فعلن فعلن کا روپ دھار لیتا ہے۔" (قریشي، ۲۰۱۰، صفحه ۳۳)

**ژباړه** : ماهیې د وزن پهٔ حوالې سره دوه موقفه مخ ته راغلي دي ، لومړی موقف د تنویر بخاري دی . د دهٔ پهٔ قول سره د ماهیې وزن داسي دی:

مفعول مفاعیلن
مفعول مفاعیلن
مفعول مفاعیلن

اؤ دویم موقف د ډاکټر جمال هوشیار پوري دی ، د دهٔ پهٔ نظر د ماهیې وزن داسي دی:

فعلن فعلن فعلن
فعلن فعلن فعلن
فعلن فعلن فعلن

د وزن پهٔ هکله د دواړو اختلاف مخ ته راغلی ؤ ، تر کومه چي د ماهیې د لومړۍ اؤ د درېیمي مصرعې خبره ده د دې وزن مفعول مفاعیلن... هم کېدای سي اؤ فعلن فعلن فعلن هم .غور چي وربانديې وشي نو د ډاکټر جمال هوشیار پوري موقف لږ ډېر ژوندی دی ولې چي مفعول مفاعیلن هم پهٔ عملي توګه حقیقتاً د فعلن فعلن فعلن جامه اغوندي"-

دلته ځینو لیکوالانو هڅه کړې چې د ماهیې وزن په اردو ژبه کې برابر کړي، خو دا هڅې ځکه ناسمې ثابتې شوې چې د پنجابي اؤ اردو ژبو ترمنځ د وزن او الفبا توپیر شته. دا کومه مبهمه خبره نهٔ ده، بلکې روښانه ده چې د هرې ژبې د الفبا، غږونو اؤ لهجې ځانګړنې سره د وزن جوړښت هم بدلېږي. ځینې غږونه چې په یوې ژبه کې وي، ممکن په بله کې نهٔ وي؛ نو ځکه د وزن مسئله یوه طبعي اؤ عامه موضوع ده.

پنجابي ژبه که څهٔ هم د ماهیې په سېلابونو کې تنوع لري، خو هلته دا صنف د خپلې ژبې د طبیعت سره سم تنظیم شوی دی. برعکس، اردو لیکوالانو کله ناکله د پنجابي وزن د اردو پر ماهیه تپلی، چې دا کار یې له ستونزو سره مخ کړی. خو اوس د وخت په تېرېدو سره دا ستونزې تر ډېره حده اصلاح شوي، اؤ د اردو ماهیه هم د ادبي پلوه د ستاینې وړ بڼه غوره کړې ده. وروسته له دې، د اردو لیکوالانو له خوا د پنجابي ماهیې مطالعه د هغوی لپاره ګټوره تمامه شوه، او دا نظرونه د اردو ماهیې د پرمختګ لامل وګرځېدل:

> " *بعض ادباء نے کہا کہ ماہیے کے دوسرے مصرعے کا وزن پہلے اور تیسرے مصرعوں سے ایک سبب کم ہوتا ہے اور بعض اوقات ان کے برابر بھی ہوتا ہے۔ بعض ادباء نے بھی کہہ دیا کہ بعض اوقات ماہیے کا دوسرا مصرعہ پہلے اور تیسرے مصرعوں سے بڑھ بھی جاتا ہے۔*" (قریشي، ۲۰۱۰، صفه ۳۴)

**ژباړه**: څهٔ ادیبانو ووېل چې ماهیې د دویمې مصرعې وزن تر لومړۍ اؤ اخري / درېیمې مصرعې یؤ سېلاب کم هم وي اؤ کله کله بیا د دې برابر هم وي ، ځینو ادیبانو بیا دا هم وېلي چې کله کله د ماهیې د دویمې مصرعې سېلابونه چې دي کله کله زیات هم شي.

دا مطلب ډېر واضح دی چې د ماهیې، که هغه په پنجابي کې وي، اردو کې وي یا پښتو کې، د وزن اؤ سېلابونو مسله یوه اساسي او طبیعي ستونزه ده، ځکه چې هره ژبه خپل ځانګړی عروض، غږونه لري. د ماهیې ټول خوند اؤ اثر هم په همدې وزن اؤ اهنګ ولاړ دی، نو ځکه پر دې بحثونه هم لازمي دي. خو پښتو ژبه په دې برخه کې ډېر پر وخت او هوښیارانه ګامونه پورته کړي دي. د هائیکو مثال ډېره ښهٔ بېلګه ده: کله چې دا صنف له جاپان څخه اردو ته راغی اؤ له هغهٔ ځایه پښتو ته، نو لومړی یې اصل سېلابونه ۵، ۷، ۵ ستونزې جوړولې، خو پښتو شاعرانو دا ستونزه ژر درک کړه اؤ د دې پر ځای یې د خپل ژبني وزن سره سم ۱۱، ۱۱، ۱۱ ته واړوله، چې له امله یې دا صنف ډېر زر مقبول شو- نو همداسې تمه کېږي چې که ماهیه هم پښتو ادب ته ژوره لاړ ومومي، نو پښتو ادیبان به یې د خپل وزن، موسیقیت او عروضو مطابق داسې شکل ورکړي چې د ژبې له ذوق او ذهني جوړښت سره برابر وي. دا د پښتو ژبې د تخلیقي ځواک ثبوت دی چې د بهرنیو صنفونو ژر جذب، تنظیم او محلي کول پکې ممکن دي.

" پهٔ ادبي معاملو کښې اختلاف څهٔ نوې خبره نهٔ ده . ځيني پښتو هائيکو نيګاران دا هائيکو صرف د ۵ ، ۷ ، ۵ والا ساخت قائل دي لکه ډاکټر سعيد احمد سعدي وغيره . خو زيات تر هائيکو نيګاران داسي دي چي دا ساخت هم مني هائيکو پکښې ليکي خو د هائيکو د پاره ددې ساخت قيد نهٔ مني لکه پروفيسر اسماعيل ګوهر ، پروفيسر ډاکټر اظهار الله اظهار اؤ پروفيسر محمد نواز طاهر وغيره ، ځکه چي دا ډله د دې خبرې قائله ده چي دغه ساخت د پښتني مزاج سره پوره سمون نهٔ خوري اؤ دا ۱۱ ، ۱۱ ، ۱۱ چپيو واله ساخت عام فهم ، مزيدار اؤ روان دی ، د هائيکو د پاره واقعي چي دا بحر شګفته دی اؤ ذهن يې ډېر زر قبلوي لکه دا هائيکو:

غاوره پيغله خپل غرور ډوبه کړه

چي لېوني سپي خولهٔ وروا چوله

اوس يې پهٔ ګېډه کښې کوتري شوي دي " (شائق ، ۲۰۱۹ ، مخونه ۱۷۲-۱۷۳)

ماهيه پهٔ پښتو کي هغه رنګه ساخت نهٔ لري لکه څنګه چي پهٔ اردو اؤ پنجابي کي را روان دی ، لکه مخکي مو خبره وکړه چي پهٔ پنجابي اؤ اردو کي د سيلاب اؤ وزن مسله بېخي تر مخه کېده چي ۶ ، ۶ ، ۶ اؤ پهٔ ۷ ، ۶ ، ۷ اؤ ۶ ، ۵ ، ۷ داسي ډېرو شکلونو کي مونږ ليدلی سو-

خو دلته خبره د وزن کېدله ځکه چي پهٔ اولسي صنفونو کي دا مجلس ډېر عام وي ، خو کله چي پښتو ته ماهيه راغلې ده نو د پښتو ژبې لپاره روان اؤ پهٔ عام و اسانه تلفظ کولو لپاره ليکوالانو د ماهيې ساخت ور بدل کړ اؤ د ماهيې سېلابونه يې ۸ ، ۸ ، ۸ وټاکل اؤ کوم شکل چي اوس لري هم دغه سي چي ليکهٔ شي نو ډېره روانه اؤ پر مخ تګ صنف به پاتې شي. ماهيې تر دا ننه پهٔ داسي حالاتو کښې تر دې حده مزل لهٔ ډېرو ستونزو سره مخ مزل کړی دی چي د پنجابۍ نهٔ راوتې د اردو لاړ اختيارول بيا تر پښتو را تلل د دې صنف د پر مخ تګ سفر لاړ ده .

**د پښتو ماهيې ابتداء و ارتقاء:**

پهٔ پښتو ادب کښې د ماهيې د ابتداء پهٔ هکله به دا ووايو چي ماهيه د پنجابۍ ژبې فولکلوري صنف چي پهٔ هندکو ؤ پهٔ سرائيکي کي هم ليکل سوی اؤ ويل سوی دی / ويل کېږي اؤ بيا د اردو لهٔ لارې و پښتو ادب ته را داخله شوې دی ، د اردو لهٔ لارې ځکه مونږ ويلی شو چي راغلی دی دا صنف پهٔ اردو کي پهٔ درې مصرعو کي ليکل کېږي اؤ پهٔ پښتو کښې هم پهٔ هغه درو مصرعو کي رائج شوی دی لکه رياض تسنيم چي پهٔ خپل کتاب (زهٔ که دا وارې اودهٔ شوم ) د ماهيې پهٔ ليکلي هيئت باندې پهٔ يوٗ لنډ بحث کي داسي ليکي :

" يوٗ وضاحت ضروري ګڼم او هغه دا چي د غزلو علاوه پهٔ دې کتاب کي ۳۲ ماهيې هم شاملي دي . زهٔ د ماهيې صنف پهٔ تفصيل کي نهٔ ځم خو دا د هندکو ، پنجابۍ اؤ سرائيکۍ ژبو اولسي صنف دی چي د موضوع پهٔ لحاظ لکه د پښتو د ټپې شګفته اؤ عام انساني ژوند سره تړلي احساسات لري . د تيکنيک پهٔ لحاظ پهٔ دغو ذکر

شوو ژبو کي ماهيې درې مصرعې لري چي وړومبۍ اؤ درېيمه مصرعه يې خپل منځ کښې هم قافيه اؤ هم رديف وي اؤ دويمه مصرع ازاده وي اؤ د دغو ژبو اولسي موسيقي پۀ سرونو اؤ اهنگونو ترتيب شوي وي . کله چي اردو ادب ته راغله نو پۀ دې عروضي ارکانو کي اوليکې شوه.

مفعول مفاعيلن

مفعول مفاعيلن

مفعول مفاعيلن

پښتو کي زما نه مخکي هم ماهيه ليکل شوې ده . ما صرف دومره وکړل چي درې واړه مصرعې مي پۀ اتو اتو سېلابونو کي وليکلې چي د پښتو د خپل وزن سره سمون خوري اؤ د موضوع پۀ لحاظ مي مضامين هم دومره اؤ پره را نۀ وړل چي د خواصو لۀ نظره پرېوځي . گر قبول افتد.... " (تسنيم ، ۲۰۱۶، مخونه ۷،۸)

نو ځکه دا وېلی شو چي دا د اردو لۀ لارې و پښتو ادب ته را ننوتی دی .

دلته پۀ پښتو ادب کي دا خبره عامه ده چي دا صنف د پښتو ژبې خوږ اؤ د خدامست شاعر پۀ نامۀ مقبوله اروابناد رياض تسنيم پۀ لومړي ځل ليکلی دی چي ډېر د خوند اؤ پۀ زړۀ پورې کار ورته کړی دی اؤ ښۀ پۀ انصاف سره يې د دې صنف بنياد پۀ پښتوادب کي اېښی دی . خو کله چي دا خبره دۀ کړې ده چي دا صنف تر ما مخکي هم پۀ پښتو ژبه کي ليکل شوی دی نو دلته دا غټ سوال مخ ته راځي چي د دې صنف پۀ هکله رياض تسنيم دا وائي چي د دې عروضي ارکانو کي ما بدلون راوستلی دی اؤ پۀ ۸ ، ۸ سېلابونو کي مي ليکلې ده ايا که رياض تسنيم دا خبره کوي چي د دې شکل ما ور بدل کړی دی چي د پښتو ژبې لۀ وزن سره سمون خوري نو تر دې لۀ مخه چي پۀ پښتو کي ماهيه ليکل شوې ده هغه پۀ کوم شکل کي ليکل شوې ده؟ چا ليکلې ده ؟ کله يې ليکلې ده ؟ چي ايا دلته هم د اولس له لارې را منځ ته شوې ده که يؤ شاعر ليکې ده؟

پۀ ۲۰۱۶مارچ کي چاپ د رياض تسنيم پۀ کتاب (زۀ که دا وارې اودۀ شوم) کي د ماهيې د وزن ور بدلولو خبره يا وضاحت رياض تسنيم پۀ خپله پۀ دې کال کړی دی ، خو ياده مو شي چي تسنيم دا خبره هم کړې وه چي تر ما لۀ مخه هم پۀ پښتو کي ماهيې ليکل شوې دي نو دا خبره بلکل سمه ده . زما د تحقيق مطابق تر رياض تسنيم لۀ مخۀ پۀ پښتو کي ماهيې تسکين مانېروال ليکلې دي چي پۀ دسمبر ۲۰۱۱ کي د (چي ښه خوشې صحرا وې) نومي کتاب کي پۀ شمېر ۳۳ ماهيې چاپ کړي دي چي تر دې لۀ مخه مي پۀ دې حکله حواله ورکړې ده .

دا خبره خو واضع شوه چي ماهيې پۀ پښتو ادب کي تر تسنيم لۀ مخه تسکين ليکلي دي هغه هم شاوخوا ۵ پنځۀ کاله مخکي چي تسنيم ۳۲ اؤ تسکين ۳۳ ليکلي دي . تر تسکين ځلور پنځۀ کاله پس تسنيم دا خبره کوي چي د پښتو وزن پۀ حساب د ماهيې شکل ما ور بدل کړ خو کومې ماهيې چي

څلور پنځۀ کاله مخکي تسکین مانېروال پۀ خپل کتاب (چي بنه خوشې صحرا وې) کي ليکلې دي د هغو ماهيو اؤ د ۵/۴ کاله پس ليکل شوې ماهيو وزن بلکل يؤ دی . د مثال پۀ توګه د رياض تسنيم څو ماهيې را اخلم:

« " تۀ لږ دو مره خوا له راشه
زۀ هغه نايابه مشک يم
ما پۀ لپو لپو پاشه

رخصت اخلي مازيګر دی
جينۍ نيمه پاتې نۀ شوه
خو لالی پردی نوکر دی

دغه خوب مي رښتيا کېږي
تۀ راځې ، پرېکړې زلفي
اؤ کږې شپې ورېږي " »(تسنيم ، ۲۰۱۸، مخ ۲۷۵)

د دې ماهيو وزن هيئت اؤ هر څۀ باندې لږ نظر وکړئ ، اؤ د دې پس د تسکين مانيروال يؤ څو ماهيې را اخلم چي ۵/۴ کاله مخکي تسکين مانېروال ليکلې دي:

« " که زما يې نو بادشاه شې
که د بل چا پۀ نصيب يې
بيا پۀ هر حال کښې تباه شې

طبيب وې تسکين تاراجه
دا ستا رنځ د مينې رنځ دی
دا مرض دی لا علاجه

څۀ که يار دی پۀ کابل کښې
که پۀ سترګو يې نۀ وينم
پروت مي دی د زړۀ پۀ تل کښې " » (تسکين ، ۲۰۱۱، مخ ۱۱۶)

دې پورته د تسنيم ؤ د تسکين ماهيو ته چي غور وشي نو دواړه دلته د هيئت پۀ هکله يؤ شان دي، ډېر توپير نه لري ، د دواړو ليکوالانو د ماهيو سېلابونه اتۀ اتۀ دي اؤ د دواړو د ماهيو لومړۍ اؤ درېيمه مصرعې هم قافيه اؤ هم رديف دي اؤ دويمه مصرعه يې ازاده ده . نو دلته بيا تسنيم څنګه دا

دعوه کولی شي چي د دې ماهيو وزن ما ور بدل کړل او اتۀ اتۀ مي کړې نو بيا څلور پنځۀ کاله تسکين څنګه پۀ هغۀ شکل کي ليکلې دي؟

دلته که تسنيم وائي چي د ماهيې شکل پۀ پښتو ادب کي دا کوم چي موږ لوستلی دی دا ما ور بدل کړی دی د پښتو وزن پۀ حساب چي ښېخي سمون ورسره خوري ، چي رياض تسنيم دا دعوه کړې ده ايا تسنيم هغه وخت د تسکين ماهيې نۀ وې وېلي؟ که يې نۀ وې وېلي نو بيا يې دا ځنګه وېل چي تر ما لۀ مخه پۀ پښتو کي بل چا هم ليکلې دي؟ تسنيم هغه بل څوک ښايي؟ خو موږ دا وېلی شو چي رياض تسنيم د ماهيو دا شکل تخليق کړی دی بيا يې دا شکل تسکين زده کړی دی او ليکلی دی ، شايد تسنيم ليکلی وختي وي خو چاپ کړی يې نۀ وي او تسکين ليکلی د تسنيم بعد وي او چاپ کړی يې تر تسنيم لۀ مخه وي ، او دلته دا خبره بيا د تسنيم ځای نسي چي دۀ کله خپل کتاب چاپ کړی دی او د ماهيې يې پۀ ښکاره وضاحت کړی دی دا دليل د رياض تسنيم سره ښۀ پوخ دليل دی ولي چي اروابناد تسکين مانړوال که څۀ هم تر اروابناد رياض تسنيم مخکي ماهيې ليکلې دي خو دا خبره يي نۀ ده کړې چي ماهيې پۀ پښتو کي لومړی ځل ما ليکلې ده يا د ماهيې سيلابونه ما برابر کړي اتۀ اتۀ مي کړي دي .

څنګه چي د نورو اولسي صنفونو پۀ هکله دا خبره کېږي چي پۀ هغه کي د اولسي رنګونه بې شمېره او ډېر پراخ پراتۀ وي ، مطلب دا چي رياض تسنيم هم ماهيې ليکلي دي او تسکين مانيروال هم خو کله چي موږ د اولسي صنف پۀ نظر ورته وګورو نو اولسي رنګ يۀ څۀ زيات د تسنيم تر ماهيو د تسکين پۀ ماهيو کي ډېر ليدۀ شي .

زۀ دلته دا خبره نۀ کوم چي د تسنيم ماهيې پۀ دې هکله څۀ کمزورې دي يا دا چي د څۀ معيار قابله نۀ دي ، د تسنيم ماهيې څۀ چي شاعري يې داسي معياري شاعري ده چي تر ډېره حده څۀ چي هيڅ کله يې هم څوک نۀ شي کولی او ماهيې يې هم پۀ خپل ځای ښۀ پرېوانه ځای نسي ، خو لکه څنګه چي ماهيه د پنجابۍ ژبې اولسي صنف دی او د اولس د جذباتو ، احساساتو ترجماني پۀ ډېره ښه توګه کوي هم پۀ دې نظر کښې د تسکين ماهيې بيا څۀ د والسي جذباتو ، احساساتو سره څۀ زيات سمون خوري .

نو د دې ټولو خبرو او دليلونو پس موږ دا وېلی شو چي پۀ پښتو ژبه کي د ماهيې ابتدا لۀ تسکين مانيروال څخه سوې ده او پۀ لومړي ځل تسکين مانيروال پۀ دسمبر ۲۰۱۱ کي د (چي ښه خوشې صحرا وې) نومي کتاب کي يې ۳۳ ماهيې چاپ کړي دي . بيا د دې پس د ماهيې ارتقائي سفر را پېل کېږي چي په ۲۰۱۶ کي رياض تسنيم پۀ خپل کتاب (زۀ که دا وارې اودۀ شوم) نومي کتاب کي يې ۳۲ ماهيې ليکي دي . پۀ يوه مانا د تسنيم ماهيې پۀ ابتدا کي هم راوستلی شو هغه ځکه چي د ماهيو د وزن بدلولو خبره يې پۀ وضاحت سره کړې ده کومه چي تسکين مانړوال نۀ ده کړې خو چاپ کړې پۀ لومړي ځل تسکين کړې دي . تسنيم او تسکين موږ دواړه د پښتو ادب د ماهيې بانيان ګڼلي شو :

« " هر سخن ، شېرین سخن دی
قدم دلته په ادب ږده
دبستان د سره بن دی

ته لږ دومره خوا له راشه
زه هغه نایابه مشک یم
ما په لپو لپو پاشه " » (تسنیم ، ۲۰۱۸، مخونه ۲۸۰،۲۷۵)

د دې ماهیو مثال مې ځکه درکړل چې د ماهیو په ارتقائي سفر کې که هر څومره ماهیې د تسکین و د تسنیم پس لیکل شوې دي نو بیا ماهیې تر اولسي رنګ زیات د تسنیم رنګ اخستی دی ، د دې هم دغه وجه کېدای شي چې د تسنیم ماهیې هم د دهٔ د شاعری په شان لیکل شوې دي څنګه چې یې شاعری مقبولیت تر لاسه کړی دی دغه رنګه د دهٔ ماهیو هم د نورو پښتو ماهیه نګارانو چې ببخي د نهٔ برابر دي رنګ اخستی اؤ لیکي یې .

پښتو کې د ماهیې د ارتقاء په هکله تفصیلي مواد نشته ځکه چې په مسقیمه ډول کار د نهٔ وربانديې شوی- نیم درځن لیکوالان شاعران سته چې پر ماهیه باندې کار کوي لګیا دي خو د چاپ په شکل کې تر اوسه نهٔ دي راوستل شوي د دا څو ذکر زهٔ ځکه درته کوم چې دا ځوانان چې ماهیه لیکي خو هغه هم په معیار پوره ختلې ماهیې لیکي . چې په دې کې د ټولي پښتونخوا پښتانهٔ ملګري دي چې په دې کې زهٔ / منصور مفتون ، ستوری عبدالرحیمزی ،کوګل صافی ، سعید الرحمن سعادت اؤ داسي نور چې تر اوسه یې چاپ کړي نهٔ دي.

له یؤ ګامه تر بل ګامه
د ژوندون مثال مو داسي
له رکوع نه تر قیامه
(سعادت)

د لونګو کروندې دي
صرف ستا کمی پکښې دی
نور جنت جنت کیسې دي
(صافی)

څهٔ که راغلل بهارونه
تهٔ چې نهٔ یې چاته یوسم

## دا لمن لمن ګلونه
## (ستوری)

لويي مه ترېځ ځان پوري
يؤ لمر ګل نۀ دی چي دا که
ډېر ګلونه لمر ته ګوري
(منصور مفتون)

پایله: ماهیه د پښتو ژبي په شعري انګڼ کښي اوس لاخارپوسي کوي، دا صنف د پښتو د نومورو صنفونه خصوصا لکه ټپه او کاکړۍ غاړه داسي غالب لري چي تخليقي اظهار پکښې ډېر اسانه دی، البته چيري چي د پنجابي ، سرائکي او هندکو د اولسي ماهيو خبره ده هلته موضوعات، ژبه، اُسلوب او مجموعي تاثر ډېر اولسي دی، پښتو ادب ته دا ماهيې د راتګ سره د ژبي تکنيکي قالبونو نور پراخېدلی شي، او دغه مېلمه صنف د سُخن او تخليق په دوام سره ورو ورو کوربه کيدلی شي، ځکه چي د کلتورونو تر منځ داسي تخليقي اتصال ځيني وخت د اولسونو د مجموعي فکر او تکنيک څخه برخمن شي او ورو ورو يې خوند ، رنګ، آهنګ او خوشبوی د خلګو د زوق برخه وګرځي-

## حوالې

١ : داؤد ، داور خان ، کال (٢٠٠٦) خوشحال اؤ فولکلور ، پښتو اکېډمی پېښور یونیورسیټی ، مخ ١١

2 :Kakar, B. S., Kakar, A. S., & Samiullah, S. (2022). The reflection of the spiritual tradition in Pashtu folklore: A study of poetic genre "Kakarai Ghardi". Al Khadim Research Journal of Islamic Culture and Civilization, 3(1), 1–10. https://doi.org/10.53575/arjicc.v3.01(22)e1.1-10

٣: ماہیا کی تعریف اور روایت،(https://urdunots.com) ۲۰۲۳،۷،۰۲۴

۴ : نجمی، محمد اقبال، سال، آباد رہیں بیلے، صفحہ ۸

۵ : https://www.punjnud.com/mahiya-nigari-kya-hai-aur-mahiya-ka-irtiqa-aur-majooda-surat-e-hal-punjnud.com نېټه ۲۰۲۳،۰۷،۲۷

۶ : قریشی، حیدر، سال (۲۰۱۰) اردو ماہیہ تحقیق و تنقید، الوقار پبلی کیشنز لاہور، صفحہ ۲۸

۷ : احمد، ریاض، سال (۱۹۹۴) ماہیا وزن اور فن، مشمولہ ماہنامہ صریر کراچی، صفحہ ۲۱

۸ : ماھیا پنجاب کی مقبول ترین صنف سخن urdu.arynews.tv/Punjabi-culture-and-poetry/ نېټه ۲۲،۰۷،۲۰۲۳

۹ : https://www.punjnud.com/mahiya-nigari-kya-hai-aur-mahiya-ka-irtiqa-aur-majooda-surat-e-hal-punjnud.com ۲۲،۰۷،۲۰۲۳ نېټه

۱۰ : قریشی ، حیدر ، سال (۲۰۱۰) اردو ماہیہ تحقیق و تنقید ، الوقار پبلی کیشنز لاہور ، صفحہ ۳۲

۱۱: شائق ، ساجد محمد ،کال (۲۰۱۹) ثر ګنده خزانه ، پښتو ادبي ټولنه تحصیل تخت بهائي ضلع مردان پښتونخوا پاکستان ،مخونه ۱۷۲ ، ۱۷۳

۱۲: تسنیم ، ریاض ، کال (۲۰۱۶) زۀ که دا واړې اودۀ شوم ، ادبي ملګري کراچۍ ، مخونه ۷،۸

۱۳: تسنیم ، ریاض ، کال (۲۰۱۸) د ریاض تسنیم کلیات ، خوشبو خپروندویه ټولنه ، مخ ۲۷۵

۱۴: مانیروال ، تسکین ، کال (۲۰۱۱) چي ښه خوشې صحرا وې ، زلمی لیکوال صوابۍ ، مخ ۱۱۶

۱۵: تسنیم ، ریاض ، کال (۲۰۱۸) د ریاض تسنیم کلیات ، خوشبو خپروندویه ټولنه ، مخونه ۲۷۵

۱۶: سعید الرحمن سعادت ، ګوګل صافی اؤ لۀ ستوري عبدالرحیمزي سره مرکې